یحیی وردک ۲۰۰۹/۰۱/۲۰م

# د باچا خان کال رپوټ (۲۰۰۸)

یوکال مخکښي د باچا خان د شلم تلین د لمانځلو لپاره په بن کي د افغانستان معلوماتي مرکز هېوادوالو ته بلنه ورکړه. د بلني په یوه برخه کي داسی راغلی وو:

« که مهاتما ګاندي په خپل ولس او نړیواله کچه پېژندل شوی دی، خو باچا خان او د ده د ژوند یوه مهمه فلسفه (په اسلام کي عدم تشدد) نه په خپل ولس، نه په اسلامي هېوادونو او نه په نړی کي ډیر خلک پېژني. حال دا چي نن موږ داسی یوې لاري ته د پرون څخه لا زیات اړتیا لرو.
نو پکار ده، چي لومړی موږ خپل ځانونه د ده د ژوند او لاربښودنو څخه خبر او بیا یي سیمی، اسلامي هېوادونو او ټولي نړئ ته وروپېژنو. »
بیا د باچا خان د شلم تلین په ورځ ۲۰/ جنوری ۲۰۰۸ م ک په بن کي یو شمیر افغانان راټول او د باچا خان د خاطرو څخه وروسته مهم وړاندیزونه او پریکړي وشوی .

په دغه لیکنه کي د دغو پریکړو د عملي شویو،تر کار لاندی کارونو او د باچا خان په اړوند د نورو هڅو رپوټ وړاندی کیږی :

۱- په هامبورګ ښار کي د سیاسي زده کړو د ټولنی او افغانیک لخوا د هامبورګ دیارلسمي اونی په چوکات کي په آلماني ژبه یو سمینار جوړ شو. دلته په برلین کي د ګاندي معلوماتي مرکز-Gandhi Informations Zentrum e.V.مشر ښاغلی کرستیان بارتولف او زیرګل وردګ د باچا خان او د عدم تشدد په فلسفه باندي خبري وکړی. دلته پریکړه وشوه، چي د باچا خان اتوبیوګرافی په آلماني ژبه چاپ شي. دریو ګډوکوونکیو د عملي کار ژمنه وکړه.

۲- د باچا خان ایډوکېشن فونډیشن (http://www.bkefoundation.org) مشر محمد رضا خان په اروپا کي مېشتو افغانانو ته د نوموړو ټولني د فعالیت او د تعلیم د لاري د امن د راوستلو په هکله خبري وکړي.[( د غونډي راپور، بن، افغانیک، ۲۳ می ۲۰۰۸)]

۳- د باچا خان په هکله په انګلیسي ژبه لیکل شوي لس کتابونه انتخاب او د افغانستان د کلتوري ودي ټولني لخوا په پښتو د ژباړی او چاپ چاری رواني دي.

۴- په کابل کی د غویي په ۳۰ مه، د افغانستان دعلومو اکاډمی او دسیمه ییزو مطالعاتو د مرکز لخوا د عبدالغفارخان د۲۰ تلین دنمانځني په مناسبت دري ورځنی سیمینار جوړ شو . [راپور دلته]

۵- د اپریل میاشتي پر ۱۲ د باچا خان د سولي او روغي د لومړی څېړندغونده په نیویارک کي دخیبر ټولني او د پاکستان د ملي عوامي ګوند له خوا جوړه شوه. دلته مهاتماګاندي لمسي پروفیسر راجموهن ګاندي وویل:« باچا خان د نه تشدد الهام له قرآن څخه اخیستی و».

۶- د افغانستان کلتوري ودي ټولني لخوا لاندی کتابونه چاپ شول:
۱- زما ژوند او زما جد وجهد. د عبدالغفار خان اتوبیوګرافی
- د باچا خان لیکونه، د بختاني خدمتګار په زیار
- فخر افغان او افغانستان، لیکوال: سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار
- باچا خان په افغانستان کي،لیکوال: سید عثمان سنجش
۷- د ۲۰۰۸ کال د نوامبر پر ۲۸ د جرمني د هورت په ښار کي د افغانستان د کلتوري ودي ټولني له خوا په د ( باچاخان ، دامن او عدم تشدد سترمبارز) تر سرلیک لاندي لوی سیمینار جوړ شو.په دې سیمینار کي د امریکا او افغانستان برسېره د بېلابېلو اروپایي هیوادونو څخه پوهانو ، لیکوالو او د باچاخان د عدم تشدد د فلسفي پیروانو برخه اخستي وه [. راپور یې دلته لوستلی شي]


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

۸ـ په همدې ورځ ۲۸،۱۱،۲۰۰۸ د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې لخواه دجلال آباد په ښار کې هم دباچاخان پر قبر د ګلو ګیډې کیښودل ښوي او وروسته تر هغه په همدې اړه یوه مشاعره جوړه شوي وه .
ـ د افغانستان معلوماتي مرکز لخوا (زموږ د باچا خبرې، د یحیی وردک راټولونه» په نامه نوې کتاب په زرو ټوکو کې په آلمان کې خپور شو. پوره کتاب دلته کتلې او لوستلې شی.

۹ـ د نومبر پر اتمه په نیویارك کې د خان عبدالغفار خان پر ژوند او مبارزه یو تفصیلي مستند فلم وښودل شو. دغه فلم د (سرحد ګاندی: باچا خان، د سولې یوځراغ) په نوم د فلم جوړوونکې ټي سي لوهان ۲۱ کاله پر دې فلم تحقیق کړی، د نیویارك په هندو امېریکن فستیوال کې ننداري ته وړاندې شو. څو اونې مخکښی دغه فلم په پېښور کې هم ښودل شوی دی.

۱۰ـ د باچا خان په هکله دافغانیک په ویبسایت کې په آلماني او انګلیسی ژبو د لیکنو خپرول:
http://afghanic.de/index.php/content/view/۳۸/۵۸/lang,de

۱۱ـ د لر اوبر ویبسایت په مرسته د باچا خان په هکله یو ویب سایت جور شو:
http://larawbar.com/bachakhan
دلته به د باچا خان په هکله نوې لیکنې او راپورونه خپریږي .

یحیی وردک، wardak@afghanic.org
بن ښار، ۱۹، جنوری ۲۰۰۹ م ک

نوټ : کیدای شی دلته په تیر کال کې د باچا خان په اړوند ټولی هڅې نه وی راغلی. هیله مند یم، تاسو په دې هکله د راپورونو او موادو په رالیږلو سره زموږ سره مرسته وکړی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de